مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۱۹/۱۲/۳۰

# د نظم، شعر او بیت توپیرونه

## نظم:

نظم په لغت کې پېیلو (د مرغلرو پېیلو) ته ویل کیږي او په اصطلاح کې د نثر پر وړاندې هغه وینا ده، چې په وزم (وزن = اهنګ) سره پېیل شوې وي.

پخوانیو د نظم لپاره د وزم ترڅنګ، د قافیې د لزوم ټینګار هم کاوه، خو په نوې زمانه کې قافیه او ان قراردادي کلاسیک وزمونه (عروض او نور) د نظم له لوازمو ایستل شوي او ورو - ورو یې تر یو ډول اهنګین کلام پورې پراختیا موندلې ده.

ټوله منظومه وینا هنري - ادبي نه ده، له همدې کبله یوازې هغه برخه منظومه وینا شعر باله شي، چې هنري ارزښت (ښکلا) ولري.

د هنري - ادبي ښکلا لپاره تخییل، عاطفه، فکر او د ژبې سپېمولیکه او لنډه کارونه لازم بلل کیږي.

## شعر:

په نسبي توګه یو پېژاند، چې د شعر ماهیت او جوړښتي ارکان راپېژندلای شي، دا دی:

**شعر په لنډه او اهنګینه ژبه د اند (فکر) و تخییل عاطفي ترون ته ویل کیږي.**

په شعر کې د نورو ادبي ویناوو په شان د ژبې موسیقي او د تداعي قدرت د کلام ښکلاییز ارزښتونه ګڼل کیږی.

## بیت:

په لغت کې کور، خونې یا کوټې ته ویل کیږي، خو په اصطلاح کې د مدونو قافیه والو شعرونو (یا نظمونو) جوړښتي واحد دی، چې (ډېرځله) له دوه هموزمو(د انندراج په اصطلاح متحدالوزن یا هموزن) مېسرو څخه جوړوي.
په ګڼو ختیزو ژبو (عربي، پارسي، هیندي، تورکي او نورو) کې د پښتو په شان دغه پېژاندونه همداسې منل شوي دي.

له همدې کبله هغه شمېر پښتانه، چې نظم د ازاد شعر په مانا (د مقفی شعرونه پر وړاندې) او شعر د بیت په مانا کاروي، ښايي د دغو دریبو بېلو پېژاندونو توپیر ته ځیر شي او دغه ناعلمي نومونې، چې ناسمې یې دود کړې دي، سمې کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ